احسان‌الله اریىزی ۲۰۲۵/۱۰/۰۸

# پر دیسي

## (لنډه‌کیسه)

په ډیلي کي مي د استوګني یوولسمه روځ وه چي د ( اپوګر) په لوی پارك کي له وزیر سره مخاخ شوم. ښه په خوند روغبړ مو وکړ. که څه هم چي ما په ډیلي کي په دي لنډه موده کي ډېر افغانان لیدلی وو؛ خو د وزیر په لیدو ډېر خوشاله شوم؛ ځکه په کابل کي مي هم ورسره پېژندل او کله نا کله به مو بنډار کاوه.
دی همغه وزیر و. هېڅ بدلون نه و پکي راغلی. زموږ د وطن او زما د ښار او زموږ د کوڅي وزیر. کله چي دی په وطن کي و، ډېرو خلکو دا خبري ځیني اورېدي:
- دلته ژوند تدریجي مرګ دی ... دا وران وطن... دا ویجاړ وطن!
او چي یو نیم چا به پوښتنه تري وکړه:
- نو څنګه وکړو؟
ده به په غوسه ورته وویل:
- له دي ځایه تېښته په کار ده ... دا هېڅ د ژوند ځای نه دی... دلته هېڅ تمدن نشته!
وزیر به تل ویل چي له دې وران ملك نه د باندي، هرځای ژوند شته، تمدن شته، خوښي شته ...
بیا به یي سوړ اسویلی ویست او وبه یي ویل:
- خو دلته هېڅ نه شته ... له دي ځاه تېښته په کار ده.
زما په حساب وزیر څو میاشتي مخکي له خپلي میرمني او کمکی لور سره یو ځای وطن پرېښود او د کابل د سپرلیو خوندوري ورمي یي، د ډیلي په سوزنده او بي خونده تودوخه بدلي کړې او ځان یي پردیسي کړ.
وزیر تر جوړ تازه وروسته سملاسي په خندا شو او وېي ویل:
- ته هم راغلی !؟
او بې له دینه چي ما ځواب ته پرېږدي، وېي ویل:
- اخر تول راځي ... ما خو درته ویلي وو چي له هغه ځایه تېښته په کار ده!
ما ورته وویل:
- زه د درملو پاره راغلی یم.
ده بیا هم وخندل او وېي ویل:
- تول په اول کي یو څه وايي... په هر نامه چي وي خلك له هغه ملکه تښتي!
او زیاته یي کړه:
- هغه ډېر وروسته پاتی ملك و... جګړې نور هم ویجاړ کړ... هلته ژوند تدریجي مرګ و.
تر ډېرو خبرو وروسته، وزیر خپله پته راکړه او ټینګار یي وکړ چي ماښام کور ته ورشم. زه په دی بلنه ډېر خوشاله شوم؛ ځکه چي د لنډو روځو مسافری او یوازیتوب او د روغتونونو لالهاندي ستوما نه کړی وم.
***
ماښام مهال و چي د زاړه ډیلي د ( بلیماران) په تنګه کوڅه کي، د یوي ودانی په دریم پوړ کي د وزیر کور ته ورسېدم. دوی کوچنی کوټي یي په کرایه نیولي وې. د خوني هوا توده او نمجنه وه .
د وزیر کمکی لور ناروغه او پرمخي پرته وه.
مور یي وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

- دا یې د تبې ځلورمه روځ ده... ماشومه چور ویلی شوه... دا تودوخه هېڅ د زغم نه ده.
بیا یې خپل خاوند ته وکتل او وېې ویل:
- زه د لته ډېره خپه یم. پوره ستومانه شوې یم. کشکې بېرته تللي وای.
وزیر ما ته وکتل او وېې ویل :
- وینئ... دا نه هلته په کابل کې ښځه وه او نه دلته!
ما ته د دوی د ژوند بهیر پوره څرګند و. کله ناکله به یې په کوچنیو خبرو شخړه وه.
زه لا نه پوهېدم چې څه ووایم چې بیا د وزیر غږ پورته شو:
- ما خو په کابل کې درته ویلي و چې زه هلته له ژونده بېزاره شوی وم. ځوان وم، پیسې مې درلودې، ښایسته وم او ځان ته مې دا حق ورکاوه چې خوشاله ژوند وکړم. وخت ښه تېر کړم او...
زه یې په خبرو کې ګډ شوم او ومې ویل:
- ژوند دې بد نه و، کور دې درلود، پلار دې ژوندی و، لکه همغسې چې تا وویل پیسې دې درلودې... دا ده شکر ښځه لرې، لور دې شته او...
ده په خندا زما خبرې غوڅې کړې او وېې ویل:
- دا شیان بس نه دي. هلته مې سا بنده- بنده کېده. په هغه وروسته پاتي ملك کې ژوند کول عبث وخت تېرول وو. زه ډېر ازاد ژوند غواړم، هره شیبه باید ښه تېره شي.
بیا یې خپلې ښځې ته وکتل او وېې ویل:
- لکه په غرب کې !...
او ما ته ځیر شو:
- ژوند هلته ژوند دی ... څه نه دي چې نشته... تا نه دي لیدلي. د ځمکې د مخ جنت دی جنت!
ښځې یې ورته وویل:
- نو بیا دې دا دومره وخت په هغه ملك کې څه کول؟ له اوله به همهلته تللی وې، غرب ته. هغه ځای چې ته یې ارمانجن یې او زه دې بیا څه کولم؟ داسې ښکاري چې تا واده او د کور میرمنې ته اړتیا نه درلوده. ستا چې چېرته ښه هلته شپه. نن دلته، سبا هلته!
وزیر په کراره وخندل او وېې ویل:
- لکه چې بیا دې شور ته ملا تړلې؟...
او ما ته یې وکتل:
- زموږ هره روځ شور دی . زه یو څه وایم او دا بل څه. نه پوهېږم څه وکړم؟ اصلاً زما پلار غلط شوی و، زه او دا ښـځه ډېر سره لیرې یاستو!
ښځې یې په قهر ورته وویل:
- زه هم همدا وایم . زه او ته په رښتیا چې ډېر سره لیرې یو. زه د (کور) ښځه یم او ته د (بازار) سړی!
زه پوه شوم چې دوی بیا سره شول. دوی په کابل کې هم همداسې وو. په لږ خبره به یې شور و. ښځې به میره ګرم باله او میره ښځه. ده به په ښځه بد ویل او ښځې په میره. ښځې به ځان تر نارینه ښه باله او نارینه تر ښځې؛ ځکه مې هڅه وکړه چې د دوی د ناندریو مخه ونیسم . کله چې دوی لږ غلي شول، ښځې وژړل او ما ته یې وویل:
- تا ته خو زموږ د ژوند ټوله کیسه معلومه ده. دا اووه- اته کاله ما داسې تېر کړي لکه په اور کې. هره روځ ناندرې، هره روځ ترخې خبرې او هره روځ شور.
ما ورته وویل:
- ګوره زه ناروغ یم او د درملو له پاره راغلی یم. هیله کوم چې زما د پاره کراره شه.
دې وویل:
- ته؛ خو په دې پوهېږې چې اته کاله مخکې مې له وزیر سره واده وکړ. په تقدیر کې به همداسې لیکل شوي و. زموږ له ګډ ژوند نه یو کال تېرشوی و، چې پوه شوم چې په سینه کې مې دوه زړونه درزیږي او لنډه موده وروسته مور شوم، ګیډۍ وزیږېده. دا ټوله کیسه ستا د سترګو په وړاندې تېره شوه، ته زموږ په ژوند ښه خبر یې.
دا وخت یې خپله ناروغه کمکۍ لور له ځمکې نه پورته کړه او وېې ویل:
- زه مې هره شپه خپله لور په همدې کیسه ویده کوم او ورته وایم چې ته دې خپل مالي ښه وپېژنه. همدې و چې زما په زړه کې یې ستا تخم وشینده؛ خو بیا یې خپل کښت پرېښود او د پردیو په غم کې ډوب شو. هغه ځان د هوسونو په سیند لاهو کړ اود نورو په سترګو کې د نیکمرغۍ په لټه پسې ورك شو.
د ښځې خبرو ډېره اغیزه راباندې وکړه؛ ځکه مې سګرټ بل کړ او وزیر ته مې وکتل، غوښتل مې چې په هغه باندې د دې خبرو اغیزه ومومم. لکه چې هغه هم زما په نیت پوه شوی و:
- زه دا خبرې نه منم. زه له خپله ژونده ستومانه یم او ډېر لیرې ځم. له ملکه وتښتېدم چې هرڅه هېرکړم؛ خو دا ښځه او هغه ګیډۍ ما نه پرېږدي. همغه وېناوې، همغه څېرې او همغه ستومانونکی ژوند! زه دلته هم په ځنځیرونو کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښکيل يم؛ خو زه ځوان يم، تکړه يم، پيسې لرم او دا ټول ما ته دا حق راکوي، چې ځان پوره ازادي ته چمتو کړم. زه بايد خپل وخت حرام نه کړم، تېرې شيبې بېرته نه راګرزي!
ښځې سوړ اسويلی ويست، ورو يې خپلې اوښکې پاکې کړې او پاځيده چې ډوډۍ راواخلي.
***
دوه اونۍ وروسته په ( جيون هسپتل) کې بستر وم. ما بايد يوه مياشت په روغتون کې تېره کړې وای. ما ته داسې ايسيده لکه د خپل وطن په کوم روغتون کې چې پروت وم. تر نيمايي ډېر ناروغان زما د وطن خلک وو.
يوه روځ د روغتون په بڼ کې ګرزيدم چې د وزير په ميرمن مې سترګې ولګېدې. سملاسي مې پوښتنه  تري وکړه:
- خيريت دی... دلته څه کوې؟
هغې خپلې اوښکې پاکې کړې او وېې ويل:
- ګيډی ډېره ناروغه ده ... تبه يې روځ په روځ پورته ځي.
او وېې ويل:
- وزير لاړ!...
ما په بېړه پوښتنه تري وکړه:
- چېرته لاړ؟
مړې اوښکې يې توېې شوې او وېې ويل:
- هغه ځای ته چې ډېر يې ارمانجن و!
ما په تعجب ورته وويل:
- څنګه لاړ؟... تاسو يې چا ته پرېښودې؟
دې وويل:
- تقدير ته؟!... يوه شپه ناوخته راغی او وې ويل چې سبا ته ځي. بس همدا يې ويل چې عبث ژوند نه شم تېرولای. پنځه روځې ځواني ده... ده حتی خپل کښت ته هم ارزښت ورنه کړ، ګيډی يې هم ناروغه او پرديسه پرېښوده. هغه د شنو سترګو او طلايي ويښتانو شوق ليونی کړی و...
دا وخت ما د دې خبرې پرې کړې او پوښتنه مې وکړه:
- اوس ته دلته بستر يې او که ګيډی؟
دې وويل:
- که رښتيا درته ووايم، دواړه. ګيډی د تبې په اور کې سوځي او زما په  زړه  باندې هم اور بل دی. ژوند ډېره بدمرغي راباندې راوستې ده. اوس دلې د ګيډی ناروغي ټال کړی يم او که نه سمدلاسه بېرته ځم. ګيډی ډېره ناروغه ده. په خپل پلار پسې ډېره خپه ده، يوه شيبه يې نه هېروي. د لوبو ګڼ سامانونه مې ورته پيدا کړي دي. هغه خپل پلار غواړي؛ خو پلار ميراث مړی يې نه پيدا کيږي. هغه نا ځوانه په پردي ملك پرديسان کړو.
خدازده چې زموږ خبرې به لا څومره اوږدې شوې وې، چې پرستاره راغله او زه يې د لاس په اشاره وغوښتم.
***
دې کيسې هك پك حيران کړی وم، خپله ناروغي مې څه کوې چې دې پيښې بيا له سره ناروغ کړی وم. درې روځې کېدې چې د وزير ميرمن بېسده پرته وه. راز- راز دارو درمل ورته اېښي وو: خو دا همغسې بېسده وه او په خوله به يې سپين ځګ دربدلی و.
پرستارې کيسه راته وکړه:
- دا دريمه روځ ده چې دا ښځه بېسده پرته ده، زورور شوك يې ليدلی دی.
ما پوښتنه وکړه:
- شوك؟
پرستارې ځواب راکړ:
- هو، شوك. دا ښځه خپله لور غواړي.
ما ورته وويل:
- لور يې ورته ورکړی، هغه خو په همدې روغتون کې بستر ده.
پرستارې په تعجب وويل:
- دا څه وايې؟ نن د هغه کمکۍ جلۍ د مرګ دريمه روځ ده. درې روځې مخکې سهارې تېجنه جلۍ راپورته شوې وه او پلار- پلار نارې يې وهلې. لکه چې خپل پلار يې په خوب ليدلی و. بې وزله جلۍ له خايه پاځيدلې او د پلار په لټه له کوټې څخه د باندې وتلې وه، مور يې په هغه لومړۍ روځ دومره موږ ته وويل چې زه داسې وخت له خوبه وېښه شوم چې لور مې د دريم پوړ برنډې ته رسيدلې وه.
ما په بېړه  پوښتنه تري وکړه:
- برنډې ته !؟...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پرستاري وويل:

- هو، برنډې ته. او تر هغه چي مور يي وردانګل، ماشومه د دريم پوړ له برنډې څخه لاندې غورځېدلي اوماغزه يي لور په لور شيندل شوي و!
زما سر وچورليد، د ټول بدن وينو مي د ماغزو په لور وځغستل، سترګي مي پټي- پټي شوې ، لاس او پښي مي کرخت شول او همدومره مي وويل:
- ځای په ځای مړه شوه؟
پرستاري ورو وويل:
- هو، ځای په ځای.
ورو مي شونډې ببرته شوې:
- نو دا شوك بي علته نه دی. هر څوك چي له داسي صحني سره مخامخ شي، همداسي شوك ويني.
بيوزلي مور همغسي بيسده پرته وه، په خوله يي سپين ځګ درېدلی و او ورو- ورو يي دا کلمه تکراروله:
- ګيډ...ی ....ګي....ډی...لورې!

پای
۲/۳/۱۳۶۸
نوی ډيلی - هند


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ